د لوړو زده کړو وزارت

لوګرد لوړو زده کړو مؤسسه

د علمي او محصلینو چارو معاونیت

د کرنې پوهنځی

د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه

# د کرنې پوهنځی ستراتیژیک پلان ۱۴۰۰- ۱۴۰۴ هـ ل کال

## د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټې تشکیلاتي چارټ




**د کمیټې مسؤل:**

**پوهنمل محمد سردار احمدی**

**د کمیټې غړي:**

**پوهنیار حفیظ الله حیات**

**نامزد پوهنیار عبدالله ځلاند**

**نامزد پوهنیار صدیق الله حماس**

**نامزد پوهنیار اسرارالله تسل**

بسم الله الرحمن الرحيم

## لړلیک


سریزه ........................................ 1
د کرنې پوهنځی پس منظر ........................................ 2
د کرنې پوهنځی تاریخچه: ........................................ 2
د استاذانو، کارمندانو او خدماتي کارکوونکو احصائیه ........................................ 2
د کرنې پوهنځی د علمي کادر غړو احصائیه ........................................ 2
د علمي رتبې په اساس د استادانو تعداد ........................................ 3
د تحصیلي درجې په اساس د استاذانو احصائیه ........................................ 3
د کارمندانو او خدماتی کارکونکو احصائیه ........................................ 3
د څانگو تعداد ........................................ 4
د محصلینو تعداد ........................................ 4
د استاد محصل نسبت ........................................ 4
په پوهنځی کې موجوده امکانات ........................................ 5
تدریسي خونې او اداري دفترونه ........................................ 5
لابراتوار ........................................ 5
انټرنټ ........................................ 5
د پوهنځی کمیټې ........................................ 5
ستراتیژیک پلان عمومی معلومات ........................................ 6
د کرنې پوهنځی لرلید (Vision) ........................................ 6
د کرنې پوهنځی ماموریت(Mission) ........................................ 6
د کرنې پوهنځی ارزښتونه ........................................ 6
د ستراتیژیک د پلان د جوړولو موخې ........................................ 6
د موجوده وضعیت تحلیل او تجزیه(SWOT Analysis) ........................................ 7
داخلي عوامل (قوي او ضعیفې نقطې) او بیروني عوامل(فرصتونه او گواښونه) ........................................ 7

د داخلي او بهرنيو عواملو تجزيه او تحليل او د پوهنځي ټوليزه ستراتيژي...8
الف: د داخلي وضيعت تحليل...8
ب- د بيروني وضعيت تحليل...9
د کرنې پوهنځی ستراتيژيک موقعيت... **Error! Bookmark not defined.**
د سواټ تحليل – SWOT Analysis... 11
داخلی عوامل... 12
د کرنې پوهنځي د ټوليزو ستراتيژيو لومړيتوب ټاکنه... 13
فرعي ستراتيژۍ... 16
د ظرفيت او کيفيت لوړونه... 16
لومړۍ برخه :تحقيق... 16
لومړۍ موخه :په تخصصي برخه کې د علمي کادرونو ظرفيت لوړ ول... 16
دويمه موخه :د څېړنو په برخه کې د استادانو ظرفيت لوړونه... 16
دريمه موخه :د تدريس ميتودولوژي او روزنېزي ارزونې برخه کې د استادانو ظرفيت لوړونه... 16
څلورمه موخه :د برېښنايي تدريس لپاره د استادانو ظرفيت لوړونه... 16
دويمه برخه: د پوهنځی رول په ټولنه کی... 17
دويمه  موخه :په تخصصي برخه کې د کارمندانو ظرفيت لوړ ول... 17
محصلينو ظرفيت لوړونه... 17
لومړۍ موخه :د يو لړ نهادونو په مرسته، د انگليسی ژبې او کمپيوټر زده کړی سيمنارونه په لار اچول... 17
دويمه موخه :د محصلينو لپاره علمي سفرونو برابرول... 17
دريمه موخه :د لېسانس له کچی پورته، لوړو زده کړو ته د محصلينو معرفي کول... 18
د کريکولم بيا کتنه او پراختيا... 18
لومړۍ موخه :د کريکولم د کمېټې ايجادول... 18
درېيمه برخه... 19
د معلوماتي ټکنالوژۍ کارونه او پراختيا... 19

کیفیت لوړونه او اعتبار ورکونه ........ 21
ځلورمه برخه نړیوالتوب ........ 21
د چارو ارزونه ........ 21
لومړی موخه: ........ 21
دویمه موخه: ........ 23
د اداري فساد پر وړاندې مبارزه او ښه حکومتولي........ 223
پنځمه برخه ........ 23
د عوایدو لاسته راوړنه ........ 24
د محصلینو د هویت کارتونو عاید ........ 24
اګرانومی ځانګې محصلینو د هویت کارتونو عاید ........ 24
داقتصاد او توسعې ځانګې محصلینو د هویت کارتونو عاید ........ 25
محصلینو ته د فراغت تصدیق پاڼو وېشلو عاید ........ 25
د اګرانومی ځانګې محصلینو د تصدیق پاڼو عاید ........ 26
د اقتصاد او توسعې ځانګې محصلینو د تصدیق پاڼو عاید ........ 26
فارغ التحصیل محصلینو څخه د ټرانسکریپټونو عاید ........ 26
د اګرانومی ځانګې محصلینو د ترانسکرېپټونو عاید ........ 26
د اقتصاد او توسعې ځانګې محصلینو د ترانسکرېپټونو عاید ........ 27
د پوهنځي د ټول اټکلیز عایداتو توحیدي جدول........ 27
دریمه برخه - اړتیاوې ........ 28
په موجوده ډېپارټمنټونو کې نویو استادانو ته اړتیا( اکاډمیک بستونه) ........ 28
اقتصاداو توسعې ځانګه ........ 28
اګرانومی ځانګه........ 29
پوهنځي استادنو د دفترونو اړتیا ........ 29
په راتلونکو پینځو کلونو کې د کرنې پوهنځي استادانو د دفترونو تجهیز اړتیا........ 29

اقتصاد او توسعې څانګه ........................................................................................ 29
د اګرانومۍ څانګه ........................................................................................ 30
په راتلونکو پینځو کلونو کې د استادانو ظرفیت لوړونه ........................................................ 30
د اداري او خدماتي کارکوونکو بستونه( شتون او اړتیا) ........................................................ 31
په راتلونکو پینځو کلونو کې د اداري او خدماتي کارکوونکو د دفترونو تجهیز اړتیا........... 31
په راتلونکو پینځو کلونو کې د کرنې پوهنځي درسي خونې( شتون او اړتیا) ..................... 31
کنفرانس خونې، غونډو تالار او کمپیوټر خونې( شتون او اړتیا) ........................................ 32
عملیاتي پلان ........................................................................................ 35
د کرنې پوهنځی د تطبقي پلان برخه........................................................................ 36
د کاریکولم برخې عملیاتي پلان........................................................................ 36
د معلوماتي ټکنالوژۍ برخې عملیاتي پلان........................................................ 37
د ظرفیت لوړونې برخې عملیاتي پلان ........................................................ 39
د استاذانو ظرفیت لوړونه........................................................................ 39
د کارمندانو ظرفیت لوړونه:........................................................................ 40
د فساد په وړاندې د مبارزې تطبیقي پلان ........................................................ 42
د ارزونې برخې تطبیقي پلان........................................................................ 44
د کیفیت لوړونې او اعتبار ورکونې برخې تطبیقي پلان........................................ 446

## سریزه

ستراتیژیک پلان جوړونه د هری اداری لپاره یو اړینه دنده ګڼل کیږي، چې ددغه پلان پر بنسټ هره اداره خپلې راتلونکې عمده موخې او د موخو د ترلاسه کولو لپاره د قوي او ضعیفو نقطو تر تشخیص وروسته د فرصتونو او ګواښونو په نظر کې نیولو سره خپل پنځه کلن ماموریت او ستراتیژۍ ټاکي.

د کرنې پوهنځی ستراتیژیک پلان په پنځو برخو کې ترتیب شوی چې لومړۍ برخه یې د کرنې پوهنځی پس منظر ده. پدې برخه کې د پوهنځی مخینه، تشکیل، د محصیلینو تعداد او په پوهنځی کې شته امکانات ذکر شویدي. دوهمه برخه د ستراتیژیک پلان برخه ده چې پدې برخه کې د داخلي عواملو او بیرونیو عواملو تر تحلیل وروسته د پوهنځی ستراتیژیک موقعیت او همدارنګه د پوهنځی لپاره مختلفې ستراتیژۍ ترتیب شویدي. دریمه برخه د ستراتیژیک پلان د تطبیق لپاره اړتیاوې تشخیص او ذکر شوي دي. په څلورمه برخه کې د ستراتیژیک پلان د تطبیق لپاره پیش بیني شوي عملیاتي پلانونه ترتیب شوي او پنځمه برخه کې ضمایم ځای پر ځای شوي دي.

د کرنې پوهنځی به په راتلونکي پنځه کلونو کې د ستراتیژیک پلان په تطبیق سره د زون په سطحه د بشري ځواک په روزلو او د علمي معلوماتو په وړاندې کولو کې مخکښه پوهنځی و اوسي، چې دغه لرلید به د تکړه او مجربو استاذانو لخوا د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د رهبرۍ او لوړو زده کړو محترم وزارت په همکارۍ سره د پنځه کلونو په موده کې ترلاسه شي.

## لومړی برخه

## د کرنې پوهنځی پس منظر

## د کرنې پوهنځی تاریخچه

لوګر د لوړو زده کړو مؤسسه د لوړو زده کړو محترم وزارت د (۵۷۵) ۱۳۹۲/۱۲/۱۳ هـ ش ګڼه پیشنهاد او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت مقام د (۱۲۰۰) ۱۳۹۳/۱۲/۲۰ ګڼه حکم په اساس منظور او ایجاد شوه.

د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې په پیشنهاد او د لوړو زده کړو محترم وزارت د عالي شورا (۳)۱۳۹۶/۱۲/۲٦ ګڼه پریکړې په اساس د کرنې پوهنځی له دوه څانګو اګرانومی او کرنیز اقتصاد او توسعې سره منظور او په ۱۳۹۸ هـ ش کال کې د کانکور ازموینې له لارې محصیلین د لوړو زده کړو ترلاسه کولو لپاره ورته معرفي شوه، چې فعلا په اګرانومی او کرنیز اقتصاد او توسعې دو څانګو کې (۱٦۹) تنه ذکور محصلین او (۸ ) تنه اناث محصلینې لري چې د اوه تنو رسمي استاذانو لخوا يې د تدریس چارې پرمخ وړل کیږي.

د یادونې وړ ده چې د کرنې پوهنځی د تدریسي چارو پرمخ وړلو لپاره یو باب تعمیر او په کافي اندازه تدریسي او اداري خونې لري.

### د استاذانو، کارمندانو او خدماتي کارکوونکو احصائیه

#### د کرنې پوهنځی د علمي کادر غړو احصائیه:

۱-۱ جدول: د کرنې پوهنځی د علمي کادر غړو

| شمیره | نوم | تخلص | رتبه | تحصیلي درجه | تحصیلي رشته | د تقرر نیټه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | احمد نور | ستانکزی | پوهنیار | ماستر | اګری بزنس | ۱۳۹۹/۳/۲۰ |
| ۲ | حفیظ الله | حیات | پوهنیار | ماستر | اګرانومي | ۱۳۹۹/۹/۱٦ |
| ۳ | فضل حنان | ساپی | نامزد پوهنیار | لیسانس | اګرانومي | ۱۳۹۹/۹/۱٦ |
| ۴ | اسرارالله | تسل | نامزد پوهنیار | لیسانس | اګرانومي | ۱۳۹۹/۱۱/۲۸ |
| ۵ | عبدالله | ځلاند | نامزد پوهنیار | لیسانس | اګرانومي | ۱۳۹۹/۲/۱ |
| ٦ | صدیق الله | حماس | نامزد پوهنیار | لیسانس | کرنیز اقتصاد او توسعه | ۱۳۹۹/۱۰/۲۲ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | نعیم الله | رحماني | نامزد پوهنیار | لیسانس | کرنیز اقتصاد او توسعه | ۱۳۹۹/۱۱/۴ |
| ۸ | احسان الله | دوست | نامزد پوهنیار | لیسانس | کرنیز اقتصاد او توسعه | ۱۳۹۹/۹/۱۵ |
| ۹ | محمد سردار | احمدی | پوهنمل | ماستر | کرنیز اقتصاد او توسعه | **۱۳۹٦/۹/۸** |

**د علمي رتبې په اساس د استادانو تعداد:**

۱-۲ جدول: د علمي رتبې په اساس د استادانو تعداد

| پوهاند | | پوهنوال | | پوهندوی | | پوهنمل | | پوهنیار | | نامزد پوهنیار | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ٦ | ۰ |

**د تحصیلي درجې په اساس د استادانو احصائیه:**

۱-۳ جدول: د تحصیلي درجې په اساس د استادانو احصائیه

| دکتور | | د دوکتور ا دوره | | ماستر | | ماستری دوره | | لیسانس | | مجموعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث | ذکور | اناث |
| ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۱ | ۰ | ۵ | ۰ | ۸ | ۰ |

**د کارمندانو او خدماتی کارکونکو احصائیه:**

۱- ۴ جدول: د کارمندانو او خدماتی کارکونکو احصائیه

| شمیره | د بست عنوان | بست | تعداد | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | تدریسي عمومي مدیریت | ۴ | ۱ | |
| ۲ | اجرائیه مدیریت | ۵ | ۱ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳ | خدماتی کارکن | ۸ | ۳ | |

**د خانګو تعداد:**

۱-۵ جدول: د خانګو تعداد

| | خانګه | د خانګې نوعه | ملاحظات |
|---|---|---|---|
| ۱ | کرنیزاقتصاد او توسعه | فارغ ورکوونکي | |
| ۲ | اګرانومی | فارغ ورکوونکي | |

**د محصلینو تعداد:**

۱-٦ جدول: د محصلینو تعداد

| اول صنف | | | | | | دوم صنف | | | | | | مجموعه | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اګرانومی | | | اقتصاد او توسعه | | | اګرانومی | | | اقتصاد او توسعه | | | اګرانومي | | اقتصاد او توسعه | |
| ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | ذکور | اناث |
| ۳۸ | ۳ | ۴۱ | ۴۵ | ۲ | ۴۷ | ۳۵ | ۲ | ۳۷ | ۵۱ | ۱ | ۵۲ | ۷۳ | ۵ | ۹٦ | ۳ |

**د استاد محصل نسبت:**

۱-۷ جدول: د استاد محصل نسبت

| دیپارتمنټ | د محصلینو شمیره | استاذانو شمیر | د استاذ محصل نسبت |
|---|---|---|---|
| اګرانومی | ۷۸ | ۴ | ۱:۱۹ |
| اقتصاد او توسعه | ۹۹ | ۳ | ۱:۲۵ |

## په پوهنځی کې موجوده امکانات

### تدریسي خونې او اداري دفترونه:

د کرنې پوهنځی دوه پوړیزه ودانۍ لري چې پدې ودانې کې ( ۹ ) تدریسي خونې او ( ۴ ) اداري دفترونه شتون لري، چې د پوهنځی ریاست، تدریسي مدیریت، د اګرانومۍ دیپارتمنټ او د کرنیز اقتصاد او توسعې ډیپارتمنټ دفتري خوني لري.

### لابراتوار:

د کرنې پوهنځی په دوم پوړ کې لابراتوار شتون لري چې د عملي تدریس لپاره په نسبي ډول تجهیزات او لابراتواري مواد لري.

### انټرنټ:

د کرنې پوهنځی د ورځنیو چارو پرمخ وړلو لپاره په نسبي ډول انټرنټ لري چې دوه د انټرنټ د خپریدو راوټرې چې یوه یې په لومړي پوړ او دومه یې په دوم پوړ کې نصب شوې، انټرنټ د وای فای له لارې ټولې ودانې کې خپور شوی او استاذان، تدریسي مدیر او محصلین ور څخه استفاده کوي.

### د پوهنځی کمیټې:

د کرنې پوهنځی د چارو د ښه پرمخ وړلو لپاره لاندې کمیټې د پوهنځی د علمي شورا مجلس په اساس ایجاد کړیدي:

1. د ستراتیژیک پلان د تدوین او نظارت کمیټه
2. د کیفیت لوړاوۍ کیمټه
3. د ازموینو کمیټه
4. د نظم او دسپلین کمیټه
5. د فرهنګي چارو کمیټه
6. د بریښنایي زده کړو کمیټه
7. د څیړنو کمیټه.
8. د تحصلیي نصاب کمیټه
9. د صحت او ورزش کمیټه
10. د سرسبزی کمیټه

## دویمه برخه

## ستراتیژیک پلان

**د کرنې پوهنځی لرلید (Vision):**

د کرنې پوهنځی هوډ لري چې د یو علمي بنسټ په توګه د هیواد د پایداره پراختیا لپاره د کرنې په برخه کې نوښتګر، مسلکي او د کاري مارکیټ د غوښتنو مطابق بشري ځواک په وړاندې کولو کې مخکښه پوهنځی و اوسي.

**د کرنې پوهنځی ماموریت(Mission):**

د کرنې پوهنځی د یو علمي بنسټ په توګه هڅه کوي چې د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د تدریس، عملي زده کړو او علمي څیړنو په وسیله په اسلامي او ملي روحیه روزل شوې مسلکي کادري بشري ځواک ټولنې ته وړاندې کړي.

**د کرنې پوهنځی ارزښتونه:**

1. ټولنې د اړتیاوو مطابق  لوړ او وړ کېفیت لرونکې بشري قوه وړاندې کول.
2. ملي او نړېوالو ارزښتونو  ته ژمن بشري قوه وړاندې کول.
3. ټولنې ته د صادقو، وطن دوسته او هیواد ته ژمنو کادرونو معرفي کول.
4. د تدریس، څېړنې او عملي کار په بهیر کې د لوړو زده کړو مؤسسو د قوانینو مقررو او لوایحو تطبیقول.
5. د کار او مارکیټ په نظر کې نیولو سره د کادرونو روزل.
6. په کړنو کې صداقت او تعهد.
7. نوښت او ابتکار.
8. شفافیت، عدالت او مساوات.
9. ملي او اسلامي ارزښتونو ته احترام.
10. صداقت او ایمانداري.
11. د هیواد د نافذه قوانیو مطابق کړنې ترسره کول.

**د ستراتیژیک د پلان د جوړولو موخې:**

د کرنې پوهنځی ستراتیژیک پلان د لاندې موخو ترلاسه کولو لپاره ترتیب کیږي:

- ✓ د استاذانو ظرفیت لوړونه.
- ✓ د باغدارۍ او حیواني علومو دیپارتمنتو ایجادول.
- ✓ د عملي کارونو او تجربو د ترسره کولو لپاره د تحقیقاتي فارم جوړول.
- ✓ د محصلینو د تعداد زیاتوالی.
- ✓ په عملي او نظري ډول د محصلینو روزل.

- ✓ د (OBE,SCL) سیستم تطبیق او پیاوړې کول.
- ✓ انلاین زده کړو ته د محصلینو د لاسرسی زمینه برابرول.
- ✓ د لوړو زده کړو د نصاب مطابق د کاریکولم تطبیق او تجدید کول.
- ✓ محصلینو ته د فیلوشیپونو برابرول.
- ✓ د تدریسي تعمیر په دهلیزونو کې د امنیتي کامرو نصب کول.
- ✓ د اداري کارمندانو ظرفیت لوړونه.
- ✓ فیلوشیپونو ته د اداري کارمندانو معرفي کول.
- ✓ د تحقیقاتي فارم جوړول.
- ✓ د لابراتوار تجهیز کول.
- ✓ د پوهنځی په سطحه د کتابخابتون جوړول.
- ✓ د کمپیوتر لب جوړول.
- ✓ د انګلیسي ژبې او کمپیوټر زده کړې مهارتونو د زده کړې لپاره د ښوونیز مرکز جوړول.

**د موجوده وضعیت تحلیل او تجزیه(SWOT Analysis)**

**داخلي عوامل (قوي او ضعیفې نقطې) او بیروني عوامل(فرصتونه او ګواښونه):**

پدې برخه کې د کرنې پوهنځی داخلي عوامل (قوي او ضعیفې نقطې) کوم چې پوهنځی له داخل څخه متاثره کوي او همدارنګه بیروني عوامل یعنې فرصتونه او ګواښونه چې پوهنځی له بیرون څخه متاثره کوي په ګوته او تحلیل شویدي.

۱-۲ جدول: د کرنې پوهنځی قوي ټکي، ضعیف ټکي، فرصتونه او ګواښونه

| داخلي عوامل | |
|---|---|
| **قوي ټکي** | ✓ په لوګر ولایت کې د کرنې په برخه کې لومړنی دولتي پوهنځی.<br>✓ د تدریس لپاره د کافي مجهزو درسي خونو درلودل.<br>✓ د لیسانس په کچه د علمي کادرونو د روزنې وړتیا.<br>✓ په هره څانګه کې د ځوان، مبتکر او ژمن علمي کافي تجربه لرونکو استاذانو شتون.<br>✓ د پوهنځي پلان او برنامو د پلیتوب لپاره د استادانو ژمنتیا.<br>✓ د محصلینو د عملي زده کړو لپاره د تحقیقاتي فارم جوړولو لپاره دکافي ځمکې شتون.<br>✓ د انګلیسي ژبې سره د اکثره استادانو بلدتیا.<br>✓ د پوهنځي د موخو ترلاسه کولو لپاره د منظم اداري او تدریسي پلان لرل. |
| | ✓ د لابراتوار او لابراتواري وسایلو کمبود |

| | |
|---|---|
| **ضعف ټکي** | ✓ د ماستري او دوکتورا په کچه د استاذانو کموالی.<br>✓ د پوهنځی د کمیټو لپاره د کافي تجهیزاتو نه شتون.<br>✓ د کمپیوترلب نشتون او کافي انترنت کموالی.<br>✓ د پوهنځي په کچه د کتابتون نه شتون<br>✓ د محصلینو د عملي زده کړو او څېړنو لپاره د تحقیقاتي فارم نشتون.<br>✓ د بیرونیو ادارو سره د توآمیتونو نشتون.<br>✓ د ټولنې د ضروریاتو مطابق د کافي دیپارتمنتونو نشتوالی.<br>✓ د (**OBE-SCL**) د محصل محوری او نتایجو پر بنسټ سیستم د تطبیق لپاره تجهیزاتو او صنفونو نشتون.<br>✓ د لوړ رتبه استادانو نه شتون.<br>✓ د مسلکي مضامینو او تخصص د اصل په نظر کي نیولو سره د لازم تشکیل او اړوندو ډیپارټمنټونو نه شتون.<br>✓ علمي او اداري کړنو د سم پر مخ بیولو لپاره د اړینو وسایلو او تجهیزاتو کمښت.<br>✓ علمي څېړنیزې مجلې نشتون.<br>✓ د ایډیټوریم نشتون. |
| **بهرني عوامل** | |
| **فرصتونه** | ✓ له پوهنځي سره په بېلا بېلو برخو کې د ټولنې د بېلا بېلو طبقو همکاري.<br>✓ په هیواد کې د فعالو نړیوالو سازمانونو د مرستو جلبولو زمینه.<br>✓ د لوړو زده کړو محترم وزارت حمایت او همکاری.<br>✓ له پوهنځي سره د اکاډمیکو همکاریو په برخه کې د سترو داخلي پوهنتونونو چمتووالی.<br>✓ نوو تاسیس شوو مؤسسو ته د دولت او لوړو زده کړو وزارت ځانګړې پاملرنه.<br>✓ د استادانو او زده کړیالانو د علمي کچې لوړوالي لپاره د داخلي او بهرني تحصیلی بورسونو شتون.<br>✓ د هیواد د داخلي پوهنتونونو سره لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې تفاهم لیکونو موجودیت.<br>✓ د پوهنتون سره د محلي ادارې، نورو حکومتي او غیر حکومتي ارګانونو او عامو خلکو ملاتړ. |
| **ګواښونه** | ✓ د ډاډمن امنیت نشتون.<br>✓ د فارغانو او د کار پیدا کولو ترمینځ د تناسب نشتون او د کاري فرصتونو کمښت.<br>✓ د زاړه بیروکراټیک اداري سیسټم موجودیت<br>✓ په اداري، مالي او اکاډمیکو برخو کې د خپلواکۍ نشتوالی<br>✓ په ټولنه کې دسیاسي، ټولنیزو، کلتوري او ... ننګونو او ستونزو شتون. |

**د داخلي او بهرنيو عواملو تجزيه او تحليل او د پوهنځي ټولیزه ستراتيژي**

**الف: د داخلي وضيعت تحليل:**

۲-۲ جدول: د کرنې پوهنځی د داخلي وضيعت تحليل

| عامل | شميره | داخلي عوامل | ضريب | رتبه | نمره |
|---|---|---|---|---|---|
| **پياوړي ټکي** | ۱ | په لوګر ولايت کې د کرنې په برخه کې لومړنی دولتي پوهنځی | ۰,۰۷ | ۴ | ۰,۲۸ |
| | ۲ | د تدريس لپاره د کافي مجهزو درسي خونو درلودل. | ۰,۰٦ | ۳ | ۰,۱۸ |
| | ۳ | د ليسانس په کچه د علمي کادرونو د روزنې وړتيا. | ۰,۰۷ | ۴ | ۰,۲۸ |
| | ۴ | په هره څانګه کې د ځوان، مبتکر او ژمن علمي کافي تجربه لرونکو استاذانو شتون. | ۰,۰٦ | ۴ | ۰,۲۴ |
| | ۵ | د پوهنځي پلان او برنامو د پليتوب لپاره د استادانو ژمنتيا. | ۰,۰۵ | ۳ | ۰,۱۵ |
| | ٦ | محصلينو د عملي زده کړو لپاره د تحقيقاتي فارم جوړولو لپاره دکافي ځمکې شتون | ۰,۰٦ | ۴ | ۰,۲۴ |
| | ۷ | د انګليسي ژبې سره د اکثره استادانو بلدتيا. | ۰,۰۵ | ۴ | ۰,۲ |
| | ۸ | د پوهنځي د موخو ترلاسه کولو لپاره د منظم اداري او تدريسي پلان لرل. | ۰,۰۵ | ۴ | ۰,۲ |
| **کمزورتيا ټکي** | ۱ | د لابراتوار او لابراتواري وسايلو کمبود | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ |
| | ۲ | د ماستري او دوکتورا په کچه د استاذانو کموالی | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ |
| | ۳ | د پوهنځی د کمپيتو لپاره د کافي تجهيزاتو نشتون. | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ |
| | ۴ | د کمپيوترلب نشتون او کافي انترنت کموالی. | ۰,۰۴ | ۱ | ۰,۰۴ |
| | ۵ | د پوهنځي په کچه د کتابتون نه شتون | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ |
| | ٦ | د محصلينو د عملي زده کړو او څيړنو لپاره د تحقيقاتي فارم نشتون. | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ |
| | ۷ | د بيرونيو ادارو سره د توآميتونو نشتون. | ۰,۰۲ | ۲ | ۰,۰۴ |
| | ۸ | د ټولنې د ضرورياتو مطابق د کافي ديپارتمنتونو نشتوالی. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ |
| | ۹ | د (OBE-SCL) د محصل محوری او نتابتو بر بنسټ سيستم د تطبيق لپاره تجهيزاتو او صنفونو نشتون. | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰٦ |
| | ۱۰ | د لوړ رتبه استادانو نه شتون. | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ |
| | ۱۱ | د مسلکي مضامينو او تخصص د اصل په نظر کي نيولو سره د لازم تشکيل او اړوندو ډيپارټمنټونو نه شتون. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ |
| | ۱۲ | علمي څېړنيزې مجلې نشتون. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ |
| | ۱۳ | د ټولنې د ضرورياتو مطابق د کافي ديپارتمنتونو نشتوالی. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ |
| | ۱۴ | د ايډيټوريم نشتون. | ۰,۰۳ | ۱ | ۰,۰۳ |
| | | ټوليزه | ۱,۰۰ | | ۲,۵۵ |

**ب- د بیروني وضعیت تحلیل**


۲-۳ جدول: د کرنې پوهنځی د بیروني وضعیت تحلیل

| عامل | شمیره | خارجي عوامل | ضریب | رتبه | نمره |
|---|---|---|---|---|---|
| فرصتونه | ۱ | له پوهنځي سره په بېلا بېلو برخو کې د ټولنې د بېلا بېلو طبقو همکاري. | ۰,۰۷ | ۳ | ۰,۲۱ |
| | ۲ | په هیواد کې د فعالو نړیوالو سازمانونو د مرستو جلبولو زمینه. | ۰,۰٦ | ۳ | ۰,۱۸ |
| | ۳ | د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې ریاست همکاري او حمایت. | ۰,۱ | ۴ | ۰,۴ |
| | ۴ | د لیسانس، ماسترۍ او دکتورا په سحطه د تحصیلي بورسونو شتون. | ۰,۰۸ | ۴ | ۰,۳۲ |
| | ۵ | له پوهنځي سره د اکاډمیکو همکاریو په برخه کې د سترو داخلي پوهنتونونو چمتووالی. | ۰,۰٦ | ۳ | ۰,۱۸ |
| | ٦ | نوو تاسیس شووتحصیلي مؤسسو ته د دولت او لوړو زده کړو وزارت ځانګړې پاملرنه. | ۰,۰۷ | ۴ | ۰,۲۸ |
| | ۷ | د هیواد د داخلي پوهنتونونو سره لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې تفاهم لیکونو موجودیت. | ۰,۰۵ | ۳ | ۰,۱۵ |
| | ۸ | د پوهنتون سره د محلي ادارې، نورو حکومتي او غیر حکومتي ارګانونو او عامو خلکو ملاتړ. | ۰,۰٦ | ۴ | ۰,۲۴ |
| ګواښونه | ۱ | د ډاډمن امنیت نشتون. | ۰,۰۸ | ۱ | ۰,۰۸ |
| | ۲ | د فارغانو او د کار پیدا کولو ترمینځ د تناسب نشتون او د کاري فرصتونو کمښت. | ۰,۰۹ | ۱ | ۰,۰۹ |
| | ۳ | د زاړه بیروکراټیک اداري سیستم موجودیت. | ۰,۰۷ | ۲ | ۰,۱۴ |
| | ۴ | په اداري، مالي او اکاډمیکو برخو کې د خپلواکۍ نشتوالی. | ۰,۰۸ | ۱ | ۰,۰۸ |
| | ۵ | په ټولنه کې دسیاسي، ټولنیزو، کلتوري او ... ننګونو او ستونزو شتون. | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۱۲ |
| | ٦ | د نوی معرفي شویو محصلینو د پوهی د سطحې ټیټوالی. | ۰,۰۷ | ۱ | ۰,۰۷ |
| | | ټولیزه | ۱,۰۰ | | ۲,۵۴ |

**د کرنې پوهنځی ستراتیژیک موقعیت**

**د داخلي عواملو د ارزیابی ماتریکس نهایي نمرې**

1 2 3 4




۲-۱ شکل: د پوهنځی ستراتیژیک موقعیت ښودنه

پورته جدولونو ته په کتو د پوهنځی د داخلي عواملو نمرې ۲,۵۵ او د بیرونیو عواملو نمرې ۲,۵۴ لا سته راغلي د داخلي او بیروني عواملو نهه خانې لرونکي ماتریکس کې د ماتریکس د داخلي او بیرونیو عواملونمرو ته په کتو د پوهنځی موقعیت په II او VI خانو کې قرار لري چې د متو سط حالت ښودونکی دي یعنې پوهنځی باید د د توسعې او ودې ستراتیژۍ غوره کړي.

۲-۴ جدول: د سواټ تحلیل

| د سواټ تحلیل –SWOT |
| --- |

| | پیاوړي ټکي (Strengths) | کمزورتیا(Weaknesses) |
|---|---|---|
| **داخلی عوامل** | 1. په لوګر ولایت کې د کرنې په برخه کې لومړنی دولتي پوهنځی.<br>2. د تدریس لپاره د کافي درسي خونو درلودل.<br>3. د لیسانس په کچه د علمي کادرونو د روزنې وړتیا.<br>4. په هره څانګه کې د ځوان، مبتکر او ژمن علمي کافي تجربه لرونکو استاذانو شتون.<br>5. د پوهنځي پلان او برنامو د پلیتوب لپاره د استادانو دنده ایزه ژمنتیا.<br>6. د محصلینو د عملي زده کړو لپاره د تحقیقاتي فارم جوړولو لپاره دکافي ځمکې شتون.<br>7. د انګلیسي ژبې سره د اکثره استادانو بلدتیا.<br>8. د پوهنځي د موخو ترلاسه کولو لپاره د منظم اداري او تدریسي پلان لرل. | 1. د لابراتوار او لابراتواري وسایلو کمبود<br>2. د ماستري او دوکتورا په کچه د استاذانو کموالی.<br>3. د پوهنځی د کمپیټو لپاره د کافي تجهیزاتو نشتون.<br>4. د کمپیوترلب نشتون او کافي انترنت کموالی.<br>5. د پوهنځي په کچه د کتابتون نشتون.<br>6. د محصلینو د عملي زده کړو او څېړنو لپاره د تحقیقاتي فارم نشتون.<br>7. د بیرونیو ادارو سره د توآمیتونو نشتون.<br>8. د ټولنې د ضروریاتو مطابق د کافي دیپارتمنتونو نشتوالی.<br>9. د (OBE-SCL) د محصل محوری او نتایجو پر بنسټ سیستم د تطبیق لپاره تجهیزاتو او صنفونو نشتون.<br>10. د لوړ رتبه استادانو نه شتون؛<br>11. د مسلکي مضامینو او تخصص د اصل په نظر کې نیولو سره د لازم تشکیل او اړوندو ډیپارټمنټونو نه شتون.<br>12. علمي او اداري کړنو د سم پر مخ بیولو لپاره د اړینو وسایلو او تجهیزاتو کمښت.<br>13. علمي څېړنیزې مجلې نشتون.<br>**14.** د ایډیټوریم نشتون. |
| | **بیروني عوامل** | |
| **فرصتونه (Opportunities)**<br>1. له پوهنځي سره په بېلا بېلو برخو کې د ټولنې د بېلا بېلو طبقو همکاري.<br>2. په هیواد کې د فعالو نړیوالو سازمانونو د مرستو جلبولو زمینه.<br>3. د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې ریاست همکاري او حمایت<br>4. د لیسانس، ماستری او دکتورا په سطحه د تحصیلي بورسونو شتون | **SO تهاجمی وضعیت**<br>د کرنې پوهنځی پداسې حالت کې قرار لري چې کولای شي د قوت ټکو په اساس له فرصتونو څخه په ښه ډول استفاده وکړي.<br>• د **S1**څخه د **O1** او **O5** او **O6** د ترلاسه کولو لپاره.<br>• د **S6,S2** څخه د **O3** د ترلاسه کولو لپاره<br>• د **S3** او **S6**څخه د **O6** او **O9** د ترلاسه کولو لپاره<br>• د **S4** او **S7** څخه د **O8** د ترلاسه کولو لپاره. | **WO محافظه کارانه وضعیت**<br>د کرنې پوهنځی کولای شي د فرصتونو څخه د کمزورتیاوو په رفع کولو کې ګټه واخلي.<br>• د O1 په وسیله د W6 پوره کولو لپاره.<br>• د O3 په وسیله د w1,w3,w5 پوره کولو لپاره.<br>• د O4 په وسیله د w2 پوره کولو لپاره.<br>• د O5 په وسیله د w7 پوره کولو سره.<br>• د O9 په وسیله د ,w13,w12 پوره کولو لپاره |

| | | |
|---|---|---|
| 5. له پوهنځي سره د اکاډميکو همکاريو په برخه کې د سترو داخلي<br>6. پوهنتونونو چمتووالی.<br>7. نوو تاسيس شوو مؤسسو ته د دولت او لوړو زده کړو وزارت ځانګړې پاملرنه.<br>8. د استادانو او زده کړيالانو د علمي کچې لوړوالي لپاره د داخلي او بهرني تحصيلی بورسونو شتون.<br>9. د هيواد د داخلي پوهنتونونو سره لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې تفاهم ليکونو موجوديت.<br>10. د پوهنتون سره د محلي ادارې، نورو حکومتي او غير حکومتي ارګانونو او عامو خلکو ملاتړ. | | |
| **ګواښونه (Threats)**<br>1. د ډاډمن امنيت نشتون.<br>2. د فارغانو او د کار پيدا کولو ترمينځ د تناسب نشتون او د کاري فرصتونو کمښت.<br>3. د زاړه بيروکراتيک اداري سيستم موجوديت<br>4. په اداري، مالي او اکاډميکو برخو کې د خپلواکی نشتوالی<br>5. په ټولنه کې دسياسي، ټولنيزو، کلتوري ننګونو او ستونزو شتون. | **ST رقابتي وضعيت**<br>د کرنې پوهنځی کولای شي چې د قوي نطقو په وسيله ګواښونه را کم کړي.<br>• د S6 په وسيله د د T2 کمولو لپاره.<br>• د S4 په وسيله د T4د لمنځه وړلو لپاره. | **WT تدافعي وضعيت** |

## د کرنې پوهنځي د ټوليزو ستراټيژيو لومړيتوب ټاکنه

د کرنې پوهنځی د ټوليزې ستراټيژۍ له تعيين او د توسعې او ودې ساحې او د هغې د ستراټيژۍ له تشخيص څخه ورو سته د يوې منطقي پرو سې څخه د لا سته راغلو ستراټيژيو لومړيتوب ټاکو؛ د ستراټيژيو د لومړيتوب

ټاکلو جدولونه جوړ شوي دي، پدې جدول کې بیا ځلې داخلي عوامل( د پیاوړتیا او کمزورتیا ټکي )او بهرني عوامل( فرصتونه او ګوا ښونه )لست شویدي، چې د هرې تعیین شوې ستراټیژۍ د تاثیر اندازه د داخلي او بهرنیو لاملونو او عواملو د تجزیې او تحلیل پر بنسټ په داخلي او بهرنیو عواملو د سواټ موډل څېړل شویدي، د هر یوه د جذابیت اندازه په ټاکل شوو ستراټیژیو باندې مشخصه شوې؛ له لاندې عواملو څخه لاسته راغلې نمرې سره جمع شوې چې حاصل به یې د لومړیتوب شوو ستراټیژیو تشخیص کوونکې او ټاکونکې وي .پورته توضیحات په لاندې جدولونو کې په لا واضح ډول لیدل کیږي:

۲-۵ جدول: د ستراتیژۍ لومړیتوب ټاکنه

**د ستراتیژیو لومړیتوب ټاکنه**

.1 او تحقیقاتي فارم جوړول .

.2 له مختلفوفرصتونو یرونیو لوپه وسیله .

.3 مؤسسو تیارول.

| ګڼه | داخلي عوامل | ضریب | ۱ ستراتیژۍ جذابیت | ۱ ستراتیژۍ نمره | ۲ ستراتیژۍ جذابیت | ۲ ستراتیژۍ نمره | ۳ ستراتیژۍ جذابیت | ۳ ستراتیژۍ نمره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | په لوګر ولایت کې د کرنې په برخه کې لومړنۍ دولتي پوهنځۍ | ۰۷.۰ | ۳ | ۰,۲۱ | ۴ | ۰,۲۸ | ۴ | ۰,۲۸ |
| ۲ | د تدریس لپاره د کافي مجهزو درسي خونو درلودل. | ۰,۰٦ | ۳ | ۰,۱۸ | ۴ | ۰,۲۴ | ۳ | ۰,۲۴ |
| ۳ | د لیسانس په کچه د علمي کادرونو د روزنې وړتیا. | ۰,۰۷ | ۴ | ۰,۲۸ | ۴ | ۰,۲۸ | ۳ | ۰,۱۸ |
| ۴ | په هره څانګه کې د ځوان، مبتکر او ژمن علمي کافي تجربه لرونکو استاذانو شتون. | ۰,۰٦ | ۴ | ۰،۲۴ | ۳ | ۰,۲۴ | ۳ | ۰,۱۸ |
| ۵ | د پوهنځي پلان او برنامو د پلیتوب لپاره د استادانو دنده ایزه ژمنتیا. | ۰,۰۵ | ۳ | ۰,۱۵ | ۴ | ۰,۲۰ | ۳ | ۰,۱۵ |
| ٦ | محصلینو د عملي زده کړو لپاره د تحقیقاتي فارم جوړولو لپاره دکافي ځمکې شتون | ۰,۰٦ | ۴ | ۰,۲۴ | ۳ | ۰,۱۸ | ۳ | ۰,۱۸ |
| ۷ | د انګلیسي ژبې سره د اکثره استادانو بلدتیا. | ۰,۰۵ | ۳ | ۰,۱۵ | ۴ | ۰,۲۰ | ۴ | ۰,۲۰ |
| ۱ | د لابراتوار او لابراتواري وسایلو کمبود | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | د ماستري او دوکتورا په کچه د استاذانو کموالی | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰۳ |
| ۳ | د پوهنځی د کمپیټو لپاره د کافي تجهیزاتو نشتون. | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ |
| ۴ | د کمپیوترلب نشتون او کافي انترنت کموالی. | ۰,۰۴ | ۱ | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ | ۲ | ۰,۰۸ |
| ۵ | د پوهنځي په کچه د کتابتون نشتون | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ | ۲ | ۰,۰۸ | ۱ | ۰,۰۴ |
| ٦ | د محصلینو د عملي زده کړو او څیړنو لپاره د تحقیقاتي فارم نشتون. | ۰,۰۵ | ۱ | ۰,۰۵ | ۲ | ۰,۱ | ۲ | ۰,۱ |
| ۷ | د بیرونیو ادارو سره د توآمیتونو نشتون. | ۰,۰۲ | ۲ | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۴ | ۱ | ۰,۰۲ |
| ۸ | د ټولنې د ضروریاتو مطابق د کافي دیپارتمنتونو نشتوالی. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰۳ |
| ۹ | د (OBE-SCL) د محصل محوری او نتابتو بر بنسټ سیستم د تطبیق لپاره تجهیزاتو او صنفونو نشتون. | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰٦ |
| ۱۰ | د لوړ رتبه استادانو نه شتون. | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ | ۱ | ۰,۰۴ | ۲ | ۰,۰۸ |
| ۱۱ | د مسلکي مضامینو او تخصص د اصل په نظر کي نیولو سره د لازم تشکیل او اړوندو ډیپارټمنټونو نه شتون. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰۳ |
| ۱۲ | علمي څېړنیزې مجلې نشتون. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۰٦ |
| ۱۳ | د ټولنې د ضروریاتو مطابق د کافي دیپارتمنتونو نشتوالی. | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰۳ |
| ۱۴ | د ایډیټوریم نشتون. | ۰,۰۳ | ۱ | ۰,۰۳ | ۲ | ۰,۰٦ | ۱ | ۰,۰۳ |
| | **بیروني عوامل** | | | | | | | |
| ۱ | له پوهنځي سره په بېلا بېلو برخو کې د ټولنې د بېلا بېلو طبقو همکاري. | ۰,۰۷ | ۳ | ۰,۲۱ | ۴ | ۰,۲۸ | ۳ | ۰,۲۱ |
| ۲ | په هیواد کې د فعالو نړیوالو سازمانونو د مرستو جلبولو زمینه. | ۰,۰٦ | ۳ | ۰,۱۸ | ۴ | ۰,۲۴ | ۳ | ۰,۱۸ |
| ۳ | د لوگر د لوړو زده کړو مؤسسې ریاست همکاري او حمایت | ۰,۱ | ۴ | ۰,۴ | ۴ | ۰,۴ | ۳ | ۰,۳ |
| ۴ | د لیسانس، ماستری او دکتورا په سحطه د تحصیلي بورسونو شتون | ۰,۰۸ | ۴ | ۰,۳۲ | ۴ | ۰,۳۲ | ۴ | ۰,۳۲ |
| ۵ | له پوهنځي سره د اکاډمیکو همکاریو په برخه کې د سترو داخلي پوهنتونونو چمتووالی. | ۰,۰٦ | ۳ | ۰,۱۸ | ۴ | ۰,۲۴ | ۳ | ۰,۱۸ |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | نوو تاسیس شوو مؤسسو ته د دولت او لوړو زده کړو وزارت ځانګړې پاملرنه. | ۰,۰۷ | ۴ | ۰,۲۸ | ۳ | ۰,۲۸ | ۳ | ۰,۲۱ |
| ۷ | د هیواد د داخلي پوهنتونونو سره لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې تفاهم لیکونو موجودیت. | ۰,۰۵ | ۳ | ۰,۱۵ | ۴ | ۰,۲۰ | ۴ | ۰,۲۰ |
| ۸ | د پوهنتون سره د محلي ادارې، نورو حکومتي او غیر حکومتي ارګانونو او عامو خلکو ملاتړ | ۰,۰٦ | ۴ | ۰,۲۴ | ۳ | ۰,۱۸ | ۳ | ۰,۱۸ |
| ۹ | د ډاډمن امنیت نشتون. | ۰,۰۸ | ۱ | ۰,۰۸ | ۲ | ۰,۱٦ | ۱ | ۰,۰۸ |
| ۱۰ | د فارغانو او د کار پیدا کولو ترمینځ د تناسب نشتون او د کاري فرصتونو کمښت. | ۰,۰۹ | ۱ | ۰,۰۹ | ۲ | ۰,۱۸ | ۱ | ۰,۰۹ |
| ۱۱ | د زاړه بیروکراټیک اداري سیسټم موجودیت | ۰,۰۷ | ۲ | ۰,۱۴ | ۱ | ۰,۰۷ | ۱ | ۰,۰۷ |
| ۱۲ | په اداري، مالي او اکاډمیکو برخو کې د خپلواکۍ نشتوالی | ۰,۰۸ | ۱ | ۰,۰۸ | ۲ | ۰,۱٦ | ۱ | ۰,۰۸ |
| ۱۳ | په ټولنه کې دسیاسي، ټولنیزو، کلتوري او ... ننګونو او ستونزو شتون. | ۰,۰٦ | ۲ | ۰,۱۲ | ۲ | ۰,۱۲ | ۱ | ۰,۰٦ |
| ۱۴ | د نوی معرفي شویو محصلینو د پوهې د سطحې ټیټوالی | ۰,۰۷ | ۱ | ۰,۰۷ | ۲ | ۰,۱۴ | ۲ | ۰,۱۴ |
| | ټولیزه | ۲,۰۰ | | ۴,۵۳ | | ۵,۴۵ | | ۴,۴ |

د پورته جدول پر بنسټ لومړۍ ستراتیژۍ ۴,۵۳ نمرې دوهمې ستراتیژۍ ۵,۴۵ نمرې او دریمې ستراتیژۍ ۴,۴ نمرې اخیستي دي د ستراټیژۍ د نمرو پر بنسټ چې له پورته څخه ښکته خواته ټاکل کیږي د ستراتیژۍ لومړیتوب په لاندې ډول اولیت بندي کیږي:

1. له مختلفوفرصــتونو لکه داخلي او بیرونیو بور سونه، له پوهنتونونو سره توأمیتونه، د علمي کنفراذ سونو او ورکشاپونو دایرول، د استادانو د تحصیلي کچې لوړوالی.
2. د لوړو زده کړو وزارت همکاریو په صورت کې د دوه ځانګو ایجادول، د کتابتون ایجاد،کمپیوتر لب ایجاد، د لابراتوار ایجاد د څیړنیز مرکز ایجادول، دعلمي مجلې خپرول او تحقیقاتي فارم جوړول .
3. د ملي او نړیوالو مؤسسو د مرستو څخه په کار اخیستنې، خصوصي سکتور او سوداګرو له مرستو څخه د زیربناوو ایجاد او پراختیا او د اړینو ښوونیزو تجهیزاتو تیارول.

**فرعي ستراتيژی**

**د ظرفيت او کيفيت لوړونه**

ظرفيت لوړونه يو له مهمو چارو څخه ده چې د هيواد په ټولو علمي بنسټونو کې جريان لري ترڅو ټولې علمې او اداري چارې په سمه او منظمه توګه پر مخ لاړې شي نو؛ په همدې اساس د کرنې پوهنځي په پام کې لري تر څو بشري سرچينو ځواک او ظرفيت لوړونې لپاره په لاندې برخو کې کار وکړي:

**لومړۍ برخه : د استادانو ظرفيت لوړونه**

**لومړۍ موخه :په تخصصي برخه کې د علمي کادرونو ظرفيت لوړ ول**

**تګلارې:**

1. استادان بورسونو او فيلوشيپونو ته معرفي کول.
2. د څانګې په غوښتنه د پوهنځي لخوا په تخصصي برخو کې د استادانو لپاره ورکشاپونه دايرول.
3. د برېښنايي امکاناتو له لارې د هغو پوهنتونو لوړ رتبه او تجربه لرونکو ا ستادانو له خوا چې لوګر پوهنتون ورسره تفاهم ليکونه لاسليک کړي، لاربښوونې ترلاسه کول.

**دويمه موخه :د څېړنو په برخه کې د استادانو ظرفيت لوړونه**

**تګلارې:**

1. د څېړنو په برخه کې د استادانو لپاره د همکارو پوهنتونونو لخوا زده کړه ييز ورکشاپونو زمنيه برابرول.
2. د هغو پوهنتونونو د لوړ رتبه ا ستادانو تر لار ښوونې لاندې، چې لوګر پوهنتون ورسره تفاهم ليکونه لاسليک کړي، انفرادي او ګډې څېړنې تر سره کول.
3. د علمي او تحقيقي مقالو په ليکلو کې د تجربه لرونکو کسانو لخوا ورکشاپونه دايرول.

**دريمه موخه :د تدريس ميتودولوژي او روزنېزي ارزونې برخه کې د استادانو ظرفيت لوړونه.**

**تګلارې:**

1. د څېړنې په برخه کې د متخصصو استادانو لخوا د OBE-SCL ورکشاپونه دايرول.
2. د متخ صيصينو ا ستادانو لخوا د تدريس ميتودولوژۍ په برخه کې د معاصرې معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ روزنيز ورکشاپونه دايرول.
3. د تدريس په بهير کې د نوې او پرمختللې ميتودولوژۍ د ترويج په موخه، روزنيز سيمنارونه دايرول.

**څلورمه موخه :د برېښنايي تدريس لپاره د استادانو ظرفيت لوړونه.**

**تګلارې:**

1. د کمپيوټر زده کړو په برخه کې د استادانو لخوا، فني او مسلکي روزنيز سيمنارونه دايرول.

2. د همکار پوهنتونونو لخوا متخصص استادان رابلل.
3. د PDC مرکز او E-learning کمیټې لخوا د نویو برېښنایي او ټکنالوژیکو و سایلو څخه، د ګټې اخیستنې په موخه سیمنارونه دایرول.

**دويمه برخه: د کارمندانو ظرفیت لوړونه:**

**لومړۍ موخه: د انګلسي او کمپیوتر کورسونو دایرولو زمینه برابرول**

تګلارې:

1. د تعلیم او تربیې پوهنځی استاذانو په وسیله د انګلیسي ژبې د زده کړې سیمنارونه دایرول.
2. د انګلیسی څانګې د ا ستادانو لخوا، محصلینو ته د انګلیسي منابعو څخه د ا ستفادې اړوند لازمې لارښوونې تر سره کول.

**دويمه موخه :په تخصصي برخه کې د کارمندانو ظرفیت لوړول.**

**تګلارې:**

1. بورسونو او فیلوشیپونو ته معرفي کول.
2. په تخصصي برخو کې دکارمندانو لپاره ورکشاپونه دایرول.
3. د برېښنایي امکاناتو له لارې د هغو پوهنتونو لوړ رتبه او تجربه لرونکوکارمندانو له خوا چې لوګر پوهنتون ورسره تفاهم لیکونه لاسلیک کړي، لارښوونې ترلاسه کول.

**دريمه برخه : د محصلینو ظرفیت لوړونه**

**لومړۍ موخه :د یو لړ نهادونو په مرسته، د انګلیسی ژبې او کمپیوټر زده کړې سیمنارونه په لار اچول .**

**تګلارې:**

1.د تعلیم او تربیې پوهنځی د استاذانوپه وسیله د انګلیسي ژبې د زده کړې سیمنارونه دایرول.

2.د انګلیسی څانګې د ا ستادانو لخوا، محصلینو ته د انګلیسي منابعو څخه د ا ستفادې اړوند لازمې لارښوونې تر سره کول.

3. دکرنې پوهنځي استادانو لخوا محصلینو ته د کمپیوټر د زده کړې، لنډ مهاله کورسونه دایرول
4. دکرنې پوهنځي استادانو لخوا محصلینو ته د مدیریت او دندې موندلو لنډ مهاله کورسونه دایرول.

**دويمه موخه :د محصلینو لپاره علمي سفرونو برابرول.**

**تګلارې:**

1. مختلفو داخلي او بیرونیو مؤســـسـاتو او همدارنګه د زراعت ریاســت په همکارۍ د عملي کار لپاره د محصلینو لیږل.

2. د میکانیزه کرنې او د نوې تکنالوژۍ تطبیق فارمونو او همدارنگه د مالدارۍ او کرنې عصري فارمونو ته محصلینو لیږل.

**دریمه موخه :د لېسانس له کچې پورته، لوړو زده کړو ته د محصلینو معرفي کول**

**تگلارې:**

1. د لوړو زده کړو وزارت لخوا ورکړل شویو بورسونوته محصلین ورپیژندل.
2. تفاهم لیک لرونکو خصوصي پوهنتونونو ته، په تخفیف سره محصلین ورپیژندل کیږي.
3. ممتاز محصلین د وزارت او اړوندو ارگانونو په مرسته بهرنیو هیوادونو ته د لوړو زده کړو لپاره لیږل کیږي.

## د کریکولم بیا کتنه او پراختیا

په لوړو زده کړو او پوهنتونونو کې زده کړه ییز سېستم په بنسټیز ډول په کریکولم ولاړ دی، ښه کریکولم چې د معیارونو له مخې د ټولنې او هیواد د اړتیا له مخې جوړ شوی وي، د ټولنې او هیواد اړتیاوې او ارزښتونه پکې په نظر کې نیول شوي وي، په معیارونو ولاړ وي په ټولیز ډول د پرمختگ په لاره هیواد په سم او مطلوب مسیر برابر وي، په معیارونو ولاړ کریکولم علمي مفاهیم په خورا ښه کمیت او کیفیت زده کړیالانو ته لیږدوي چې په پایله کې یې زده کړیالان ښه مسلکي روزل کیږي او کولی شي چې د ټولنې ستونزې ښې درک، تحلیل او د حل په برخه کې یې لازم گامونه واخلي، په خپل مسلک کې اغیزمنې څېړنې ترسره کړي، بیړنۍ و ضعیت مدیریت کړي، د ټولنې او سازمانونو مؤثره رهبري وکړی شي او په هیواد کې د پوهې د کموالي په وجه د کمښتونو او تشو د ډکولو او اغیزو د جبران لپاره لازمه او ډینامیکه ورتیا ولري.

**لومړۍ موخه :د کریکولم د کمېټې ایجادول**

**د اړونده کمېټې مسؤلیتونه:**

1. امریتونو ته دنده ورکول چې د سمسټر په پیل کې د کریکولم مطابق درسي مواد او کورس پالیسي چمتو کړي.
2. د نوي کریکولم له تطبیق څخه منظم نظارت او څارنه.
3. په کریکولم کې د لازمو اصلاحاتو لپاره د پوښتنپاڼو برابرول، ویشل او تحلیل.
4. د استاد کتاب ، لکچرنوټ، سلایډونه او نور درسي مواد له مفرداتو سره پرتله کول.
5. د درسي کتابونو په برابرولو کې د څانگو د آمرینو سره همکاري او لارښوونه.
6. د نصاب پراختیا لپاره منظمې غونډې برابرول.

**دویمه موخه :**د کریکولم مطابق د درسي کتابونو او لکچرنوټونو برابرول.

**کړنلارې او مسؤلیتونه:**

1. پوهنځی د خپل علمي کادر غړو په ګډون د وزارت له لورې د جوړ شوي کریکولم او منابعو پر بنسټ کتابونه او لکچرنوټونه چمتو او اپډیټ کوي.
2. د هر استاد له خوا د سمسټر په پیل کې کتاب، لکچرنوټ، کورس پالیسي، سلایډونه، عملیاتي او پرمختګ پلانونه د څانګې آمر ته سپاري او د اړوند آمر له خوا پوهنځي ته په رسمي ډول یاد اسناد وړاندې کیږي.
3. استادان باید د نویو او اپډیټ څیړنو څخه ځان خبر او د هغو پایله په ټولګي کې له محصلینو سره شریکه کړي.

**دریمه موخه** :د کریکولم له تطبیق څخه څارنه او په کریکولم کې د لازمو اصلاحاتو د راوړلو په موخه د کریکولم ارزونه.

**کړنلارې او مسؤلیتونه**:

1. د سمسټر په پای کی د هر مضمون د مفرداتو د ګټورتوب او بازار کې اړتیا په موخه غونډې ترسره کول.
2. د کریکولم اغیزمنتوب او اصلاح او لازمو تغیراتو او بدلونونو په اړوند د څانګو او پوهنځي په کچه د محصلینو په ګډون د ټولنې او بازار اړتیاوو او غوښتنو په پام کی نیولو سره د منظمو غونډو ترسره کول.
3. د مفرداتو او درسي منابعو( کتاب، لکچرنوټ، سلایډونه او نور )پرتلنه او تطبیق.

**څلورمه موخه :**د درسي موادو د چمتووالي او کریکولم د تطبیق په اړه اړونده مراجعو ته په سمسټریز ډول د راپور وړاندې کول.

**کړنلارې او مسؤلیتونه**

1. هر استاد باید د سمسټر په پیل او پای کې د څانګې آمر ته درسي موادو د برابرول او تطبیق په اړه مستند راپور ورکړي.
2. د څانګې آمر دې د څانګې د کادري غړو د راپورونو توحید شوې مستنده بڼه په رسمي ډول د سمسټر په پیل او پای کی پوهنځي ته راپور و رکړي.
3. پوهنځی د څانګو راپورونه ارزوي، سموي او ورو سته یې په مستنده او توحید شوې بڼه پوهنتون ته وړاندې کوي.

## ۱ بــرخــه

**علمی – تحقیقی**

په اوس وخت کې د ټولو هیوادنو بنـ سټ وده او پرمختګ د علمي – څېړنېزي برخي پوري تړلی دی، څېړنه د علم د تولید مهم فکټور دی چې په مر سته یې په اقتـ صادي ، صنعتي او سیا سی برخه کې پراخ بدلونونه رامنځته کیږي په همدي موخه د لوګر د لوړو زده کړو موسسې د ستراتیژیک پلان په رڼا کي د د کرنی پوهنځی د علمي – څیړنېزي برخي لپاره دری اصلي محورونه وټاکل چې عبارت دي له:

الف) تدریس

د کرنی پوهنځي نـ صاب د لوړو زده کړو وزارت د تحـ صیلي نـ صاب ریا ست لخوا د یو ملت او یو نـ صاب تر عنوان لاندي کلـ ستږ کې د سیمه ایزو او نړیوالو پوهنتونو د کاریکولمونو په نظر کې نیولو سره تجدید شو، نوموړی نصاب د اوس وخت د بازار او کار د غوښتنو مطابق عیار شوي دی د ټولو مضامینو مفردات یې معیاري او د نویو منابعو څخه پکې ګټه اخیستل شوي ده چې د هرو پنځو کلونو وروسته د وزارت د تحصیلي نصاب د ریاست لخوا د وخت او بازار د غو ښتنو سره سم تجدید کیږي.په پوهنځي کې تدریس د تجربه لرونکو لیـ سانس، ما ستر استادانو لخوا سرته رسیږي.

ب) څېړنه

د کرنی پوهنځی کو ښښ کوي تر څو پوري د کرنې او مالداری سکتورونو کې خپل ر سالت په ښه توګه سرته ور سوي، د خپلو څیړنو او ا صلاحي وړاندیزونو په مټ د دولتي او غیر دولتي اورګانونو د ضعف ټکي په ګوته او د شته ننګونو لپاره علمي حل لاري او وړاندیزونه وکړي، د دې لپاره چې علمي – څیړنیزه برخې ته په ښه توګه ر سیدګي وشي د لوړو زده کړو وزارت د میکانیزمونو او لایحو په پام کې نیولو سره باید د سکټوري وزارتونو ، تـ صدیو او نورو دولتي او خـ صو صی مو سیـ ساتو سره مـ شورتي او علمي مر ستي وکړي تر څو د هغوی د غو ښتنو مطابق څیړني تر سره شي .د څیړني د ودې په پار باید لاندي ټکي په پام کې ونیول شي

د لوړو زده کړو وزارت د پالیسیو سره سم په داخلي او نړیوالو ژورنالو کې د څیړنو نشرول

د ملي او سیمه ایزو علمي او څړنیزه پوهنتنونو سره د متقابلو همکاریو او اړیکو ساتل

د امکان په صورت کې د ملي او سیمي د هېوادونو د هنتونونو سره د څړنیزو پروژو، طرحو او اطلاعاتو تبادله کول

علمي څیړني ترسره کول او د څیړنو د رایجولو او ډیرولو لپاره د مادي او معنوي امکاناتو او منابعو برابرول

د ټولني په بېلابیلو برخو کې د اړتیاوو د پیژندني له پاره څیړني تر سره کول او د دپوهنتون په علمي او نورو نړیـ والو علمي مجلو (ژورنالونو) کې چاپول

د نوښت او خلاقیت درلودونکو کادرونو ملاتړ او د امکان په صورت کې ورته د لازمو شرایطو برابرول
ج) د کاري ځواک تربیه
ځرنګه چې د افغانستان ټولنه د غربت تر کرښې لاندې ژوند کوي او د بې وزلۍ څخه کړیږي نو یوازي د مسلکي کادرونو په تربیه سره نوموړي ستونزه له منځه ځي په همدي بنسټ د کرنې پوهنځی د هیواد بې شمیره فرصتونو لمځی چې  د کرنې په برخه کې لري تمرکز کوي او هوډ لري چې په لاندي برخو کې د زده کړیالانو لپاره لا  ښه خدمات وړاندي کړي.
 پوهنځی هوډ لري چې د  ښه کادرونو د تربیې د ا صل له مخې د جذب او فراغت ن سبت د زده کړیالانو په منځ کې په پام کې ونیـ سي په دې مانا چې د پنځو کلونو په اوږدو کې د ا  ستاد او زده کړیال ن سبت د ۳۳: ۱ څخه ۱:۱۸ ته را ټیټ کړي.
د علمي او څیړنیزو فعالیتونو لپاره د زمیني برابرول
آنلاین زده کړو ته د زده کړیالانو لاس رسی  (E – Education Learning ).
د پایلو له مخې د محصل محوری( OBE/SCL) د سیستم تقویه کول.

# ۲ برخه

# په ټولنه کې د پوهنځي رول

څرنګه چې د کرنې پوهنځی مـ سلکی کـ سان ټولنی ته وړاندی کوی نو پدی ا ساس دا پوهنځي د ټولنی په مختلفو برخو کی رغنده رول لوبوی چی په اساسی ډول دا رول په دريو محورنو راڅرخی.

د ملی اړتياوو تحليل

افغاذ ستان د طبيعي سرچينو او زراعتی ځمکو د لرلو له مخې د نړی د بډايه هيوادونو له جملې څخه شميرل کيږي چې اکثريت ددې سرچينو تر اوسه پورې په سمه توګه ګټه نده اخيستل شوی په هغه صورت کې چې دا زراعتی ځمکی او د مختلفو بوټو او زراعتی محـ صولاتو څخه په فني او مـ سلکي توګه ګټه پورته شي نو د سيمې خلکو لپاره کولای شو زرګونه دندې او سربيره پر دې د دولت لپاره د پام وړ عايد او ماليات را منځته کړو. چې دواړه ( د دندو او عايداتو رامنځته کول) د هيواد د ثبات لپاره عمده رول لوبوي.

زراعتی توکي نه يواځې د افغاذ ستان ستونزې رفع کوي بلکې کولای شي د سيمې د پياوړي کولو او پرمختګ لپاره د ملي او بين المللي پانګې اچوونې پاملرنه ځان ته واړوي او د سوداګريز چاپيريال د پرمختګ لامل وګرځي.

دا په خپل وار سره د افغانانو د اقتـ صاد د پرمختګ يو عامل ده چې د ټولنې بيوزلي را کموي او په هيواد کې د امنيت د منځته راتللو سبب ګرځي.

سربيره پردې د حيوانی او زراعتی محـ صولاتو څخه په سمه توګه ا ستفاده او د ترويج کارونه د نورو هيوادونو واردات او مر ستې را کموي، او په افغاذ ستان کې د زراعتی سکتور اړوند د پرمختللو تخنيکي او ټکنالوژيکي د اغيزمن پرمختګ سبب ګرځي.

